ښېرته لاړ شه او لمونځ وکړه، ځکه تا لمونځ نه دی کړی

له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې: رسول الله ﷺ مسجد ته داخل شو نو يو سړی راغی، لمونځ يې وکړ او پر رسول ﷺ ئې سلام واچاوه، رسول ﷺ ورته وويل: «ښېرته لاړ شه او لمونځ وکړه، ځکه تا لمونځ نه دی کړی»، سړی ښېرته ولاړ او لمونځ يې وکړ بيا راغی او پر رسول ﷺ ئې سلام واچاوه، رسول ﷺ ورته بيا وويل: «ښېرته لاړ شه او لمونځ وکړه، ځکه تا لمونځ نه دی کړی»، دا (عمل) درې ځلې تکرار شو، سړي وويل: «زما دې په هغه ذات قسم وي چې ته يې په حقه رالېږلی يې چې له دې يې ښه نه شم کولی، نو رازده يې کړه، رسول الله ﷺ ورته وويل: «کله چې لمانځه ته ودرېدې نو تکبير ووايه، بيا د قرآن هغه برخه ولوله چې درته آسانه وي، بيا رکوع وکړه تر څو په رکوع کې سکون ومومې، بيا پورته شه تر څو په قيام کې اعتدال رامنځته شي، بيا سجده وکړه تر څو په سجده کې سکون ومومې، بيا پورته شه تر څو په ناسته کې سکون ومومې، او دا (کړنې په پاتې) ټول لمونځ کې ترسره کړه».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي ﷺ جومات ته ننوت، نو ورپسې يو سړی داخل شو او دوه رکعته لمونځ يې په بيړه ادا کړ چې نه يې په ولاړه، نه رکوع او نه سجده کې اطمينان درلود، دا په داسې حال کې چې نبي ﷺ د هغه لمانځه ته کتل، نو کله چې سړی د نبي ﷺ خواته راغی چې هغه د جومات په يوه څنډه کې ناست و، نو سلام ئې وکړ، نبي ﷺ يې سلام ته ځواب ورکړ او ورته ويې ويل: ښېرته ولاړ شه او لمونځ دې بيا ادا کړه، ځکه تا لمونځ نه دی کړی. سړی ښېرته ولاړ او په بيړه يې لمونځ وکړ لکه څنګه يې چې مخکې کړی و، بيا راغی او رسول ﷺ ته يې سلام وکړ، رسول ﷺ ورته وويل: ښېرته لاړ شه او لمونځ وکړه؛ ځکه تا لمونځ نه دی کړی، دا کار يې درې ځلې تکرار کړ. سړي وويل: «په هغه ذات قسم چې ته يې په حقه راستولی يې، له دې يې ښه نه شم کولی، ما ته يې رازده کړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: کله چې لمانځه ته ودرېدې نو تکبيرة الإحرام ووايه، بيا فاتحه ولوله او هغه چې درته آسان وي، بيا رکوع وکړه تر څو په رکوع کې سکون ومومې: خپل لاسونه پر زنګنونو کېږده، شا وغځوه او رکوع وکړه، بيا پورته شه او خپله شا سيده کړه ترڅو هډوکي خپل ځای ته ورسېږي او په قيام کې اعتدال رامنځته شي، بيا سجده وکړه تر څو په سجده کې مطمئن شې: خپل تندی او پوزه، لاسونه، زنګونونه او د پښو نوکان په ځمکه ولږوه، بيا پورته شه ترڅو په ناسته کې سکون ومومې دا کارونه په هر رکعت کې تکرار کړه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3185